


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

آبادي اوونيزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۱۵ | مسلسل نمبر: ۵۷

شنبه، د محرم الحرام ۱۴مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال




# سرلیکنه

د افغانستان په تراو د دوحې دريېمه غونډه چې د ۱۴۰۳ لمريز کال د چنګاښ له ۱۰بيا تر ۱۲نيټې پورې د دريېو ورځو له پاره د قطر په پلازمېنه دوحه کې جوړه شوې وه، د افغانستان له لوري د اسلامي امارت د مرکزي وياند ذبيح الله مجاهد په مشرۍ لوړپوړي پلاوي ګډون کړی و. په دغه غونډه کې د سياسي، اقتصادي او له نشه يي توکو سره د مبارزې مسايلو ترڅنګ د شمال- جنوب نړيوال ترانسپورټي دهليز د جوړېدو خبرې يادونه هم وشوه. د افغانستان د پلاوي مشر په خپلو خبرو کې شمال-جنوب نړيوال ترانسپورټي دهليز کې د خپل ګډون اعلان وکړ او ويې ويل چې چمتو يوو چې په دې دهليز کې له شريکو هېوادونو سره له نږدې کار وکړو.

د شمال- جنوب نړيوال ترانسپورټي دهليز چې اوږدوالی يې شاوخوا ۷۲۰۰کيلومترو ته رسېږي، له لويديځ نه بيا تر سويلي اسيا پورې يوه مهمه لويه لار ده. ددې لويې لارې نقشه د ۲۰۰۰ م کال د سپتمبر په ۱۲مه په سن پترز بورګ کې د ايران، روسيې او هند له لوري نهايي شوې ده. ددغه مهم او ستر دهليز موخه د اسيا او اروپا ترمنځ د سوداګرۍ په برخه کې د همکاريو زياتوالی دی. شمال- جنوب نړيوال ترانسپورټي دهليز په جوړېدو سره به له يوه لوري واټن او له بل لوري لګښتونه راکم شي چې دا د سيمې هېوادونو د سوداګرۍ د پرمختګ له پاره ډېر مهم دي. د شمال- جنوب نړيوال ترانسپورټي دهليز په اوږدو کې د پراختيا او ودې له پاره راتلونکی ليدلوری هيله بښونکی دی. دغه دهليز پرته له دې چې پخوانۍ اوږدې ځمکنۍ او سمندري لارې طی شي، د اسيا او اروپا ترمنځ مخامخ اړيکه او ارتباط ټينګوي. ددې ترڅنګ به دغه نړيوال ترانسپورټي دهليز هغو هېوادونو ته چې په وچه کې ايسار دي، دا فرصت په لاس ورکړي چې سمندر ته لاسرسی پيدا کړي. د دې دهليز تر ټولو مهمه ښېګڼه داده چې له دې لارې به د ښکيلو هېوادونو له پاره زيات اقتصادي فرصتونه رامنځته شي.

افغانستان چې په وچه کې ايسار هېواد او جګړو يې هر څه ترې اخيستي دي، هڅه يې داده چې په نړيواله کچه هغو لارو ته لاسرسی پيدا کړي چې وکولای شي، خپله سوداګري پراخه کړي. ددې له پاره دا ضروري ده چې د شمال – جنوب نړيوال ترانسپورټي دهليز په څېر سترو پروژو کې شريک شي. په داسې پروژو کې شراکت به افغانستان پر ګاونډيو هېوادونو له اتکا څخه وباسي، نه به بيا څوک د سوداګرۍ په برخه کې ستونزې ورته راولاړولی او نه به يې د صادرات پر وړاندې خنډونه جوړولای شي. همدا لامل دی چې اسلامي امارت د دوحې د دريېمې غونډې پرمهال شمال – جنوب نړيوال ترانسپورټي دهليز کې د خپل ګډون اعلان وکړ. په دې سره به افغانستان په لومړي سر کې سمندر ته لار پيدا کړي، ورسره به پر يوه يا دوو هېوادونو له متکي کېدو خلاص او دغه راز به يې سوداګري پراختيا پيدا او افغاني صادرات به نړيوالو مارکيټونو ته ورسېږي. تر ټولو مهم داده چې په دې دهليز کې په شريک کېدو سره به افغانستان هم له هغو اقتصادي فرصتونو برخمن شي، له کومو چې ددې لارې په اوږدو کې د پرتو هېوادونو په نصيب کېږي.

## د ګلبهار پاور خصوصي شرکت له لوري د ۱۰۰ ميګاواټه ګازي برېښنا د توليد پر وړاندې شوې طرحه بحث وشو



۲ صفحه

## د شمال – جنوب نړيوال ترانسپورټي دهليز او پر افغانستان يې اغيزې




۲ مه صفحه

## تلاش های انجام شده در زمینه تولید برق خورشیدی



۴ مه صفحه

# د ګلبهار پاور خصوصي شرکت له لوري د ۱۰۰ میګاواټه ګازي برېښنا د تولید پر وړاندې شوې طرحه بحث وشو



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې غونډه کې د ګلبهار پاور خصوصي شرکت له لوري د ۱۰۰ میګاواټه ګازي برېښنا د تولید پر وړاندې شوې طرحه بحث وشو.

دغه غونډه چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۲۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د اوبو او انرژۍ وزارت د استازي په مشرۍ، د کانونو او پټرولیم وزارت، د افغانستان برېښنا شرکت، د امارتي شرکتونو د انسجام خپلواکې ادارې او ګلبهار پاور له استازو څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د ګلبهار پاور خصوصي شرکت له لوري د ۱۰۰ میګاواټه ګازي برېښنا د تولید د وړاندې شوې طرحې په اړه تخنیکي بحثونه ترسره او راپور یې په ټاکلي وخت د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له محترم مقام سره شریک کړي.

د یادونې وړ ده چې ګلبهار پاور خصوصي شرکت به د دغه طرحې له مخې په لومړي سر کې ۱۰۰ میګاواټه او بیا په تدریجي ډول تر ۷۰۰ میګاواټه پورې ګازي برېښنا تولید کړي.




# د شمال – جنوب

## نړیوال ترانسپورټي دهلیز او پر افغانستان یې اغېزې

لیکوال: امان‌الله حنیفي

### مقدمه

سیاسي او امنیتي ثبات د یو هېواد پر اقتصاد او سوداګرۍ د پام وړ اغېز لري. هغه هېوادونه چې امنیت یې خوندي او په چارو کې خپلواک وي، کوښښ کوي چې د سوداګرۍ کچې د زیاتوالي په موخه خپلو ترانزیټي زېربناوو ته پراختیا ورکړي. د پراخې او څو شاخیزې ترانزیټي شبکې د درلودو پــه صورت کې یو هېواد کولی شي د نړیوالې ســوداګرۍ ډېره برخه راجلب او په نړیوال سوداګریز سټېج خپل موقف پیاوړی کړي.

له نېکه‌مرغه واک ته د اســلامي امارت په رسېدو سره په افغانســتان کې سرتاسري امنیت خوندي او په خپلو ټولو چارو کې خپلواک مرکزي حکومت رامنځته شوی دی. اســلامي امارت هڅه کوي چې د افغانستان له جغرافیوي موقعیت څخه د ترانزیټي شبکې د پراختیا په برخه کې ښه اســتفاده وکړي، چې د همدې موخې یوه برخه د شمال – جنوب نړیوال ترانسپورټي دهلیز سره د افغانستان نښلېدل یا هغه ته لاسرسی پیدا کول دي. د دغه دهلیز له لارې به افغانستان په یو وخت کې هم د جنوبي اسیا او هم د

مرکزي اسیا له هېوادونو سره وصل شي او پر هغه سربېره به د اروپا بازارونو ته هم لاسرسی پیدا کړي. موږ په دغه مقاله پر همدې موضوع لنډې خبرې کوو.

## د شمال – جنوب نړیوال ترانسپورټي دهلیز

د شمال- جنوب نړیوال ترانسپورټي دهلیز د ایران، روسیې او هند ترمنځ د سوداګریزو همکاریو د زیاتوالي په موخه رامنځته شوی دی. د دې دهلیز په اړه په لومړي ځل په ۱۳۷۹ لمریز کال د یادو هېوادونو ترمنځ واحد نظر رامنځته شو، خو په لومړیو کې یې د بېلابېلو دلایلو له امله د پام وړ پرمختګ ونه کړ. په ۲۰۰۲ میلادي کال د دغه دهلیز د پراختیا په ګډون د روسیې او ایران ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک او اذربایجان، ارمنستان، قزاقستان، ترکمنستان او یوشمېر نورو هېوادونو د دې پروژې د پیل له پاره چې د ترانسپورټي لګښتونو د راکمولو او په ټولو ښکیلو هېوادونو کې د اقتصادي پراختیا په موخه اجرا کیږي، روسیې او ایران ته د همکارۍ لاسونه ورکړل .

دغه دهلیز د روسیې له سن پیترزبورګ او ایران څخه تیرېږي او په خلیج فارس کې بندر عباس ته رسیږي، چې اصلي موخه یې د ایران له لارې د روسیې او د اروپا د شمالي هېوادونو نښلېدل دي. دغه دهلیز د شاوخوا اووه زره کیلومتره اوږدوالي په درلودو سره د بېلا بېلو هېوادونو او سازمانونو ګډه هڅه ده، چې روسیه، هند او ایران یې د پروژې اصلي لوبغاړي او له اروپا سره د نښلولو په برخه کې یې بیا اذربایجان مهم رول لري. دغه ترانسپورټي دهلیز د سوداګریزو توکو د انتقال لپاره د اوسپنې پټلۍ شبکې، سړکونه، په مختلفو سیمو کې لوی او په ټولو معیارونو برابر سوداګریز بندرونه او لازم امکانات لري.

د دې پروژې د عملي کولو له پاره د ښکیلو هېوادونو ترمنځ د همغږۍ شورا(INSTC) هم رامنځته شوې ده. پر دې سربېره د یاد دهلیز د پراختیا په موخه د ترانسپورټي اتصال په برخه کې د هند او روسیې ګډه مطالعاتي ډله چې موخه یې د INSTC له لارې د سویلي او مرکزي اسیا ترمنځ اتصال دی، هم فعالیت کوي.

په ۱۴۰۱ لمریز کال کې لومړۍ ترانزیټي محموله د شمال – جنوب نړیوال ترانسپورټي دهلیز له لارې له روسیې څخه روانه شوه، چې له ایران څخه په تېرېدو سره هند ته ورسېده. د دې محمولې په تېرېدو سره له کلونو چنو او رایه وهلو وروسته دغه دهلیز فعال شو چې د ۴۵ ورځو لاره یې په ۳۰ ورځو کې ووهله .

## د شمال – جنوب نړیوال ترانسپورټي دهلیز او پر افغانستان یې اغېزې

دغه دهلیز د اسیا او اروپا ترمنځ د سوداګرۍ کچې د زیاتوالي او په ځانګړي توګه د فاصلې راکمولو لپاره مهمه کړۍ ده چې د ۱۶ زره کیلومتره واټن ۷ زره کیلومتره ته رالنډوي. د واټن په راکمېدو سره پر دغه لار د انتقالېدونکو توکو لګښت هم د نورو هغو په پرتله ۳۰ سلنه کم دی .

د اوکراین جګړې په پیلېدو سره د روسیې او اروپا ترمنځ د سوداګرۍ د موجودو لارو امنیت ترینګلی شو، له ځینو خو یې بیخي استفاده نه کېږي او یوشمېر نورو ته بیا د ناامنیو او ځینو نورو دلایلو له امله توجه کمه شوې ده. په همدې حال کې د نړیوالې سوداګرۍ یوه مهمه او ستراتیژیکه لار چې د اوکراین له جګړې وروسته یې اهمیت زیات شوی، د شمال - جنوب ترانسپورټي دهلیز دی چې روسیه د ایران له لارې د هند له بندرونو سره نښلوي.

د شمال – جنوب نړیوال ترانسپورټي دهلیز تر ټولو مهم اقتصادي ارزښت دا دی چې دا لار به د نورو هغو په پرتله د میاشتو سفر څو ورځو ته را کم کړي. دغه راز به د سینګاپور او دوبۍ له ګڼې ګوڼې ډکو بندرونو په پرتله سوداګریز لګښتونه را ټیټ کړي. د ترانسپورټ دغه دهلیز د خپل مسیر په اوږدو کې د پرتو هېوادونو ترمنځ د غوره اړیکو له پاره زمینه هم برابر وي.

د شمال- جنوب نړیوال ترانسپورټي دهلیز په بشپړېدو سره به نور د سویز کانال له لارې د سوداګریزو بېړیو تګ راتګ کم او یا هم پای ته ورسیږي. په دې سره به د هند په سمندر کې د سمندري غلاوو کچه هم راکمه شي چې وخت ناوخت پر سوداګریزو اړیکو منفي تاثیر کوي .

د دودیزو ترانسپورټي لارو د نوي بدیل په توګه د ښکېلو هېوادونو له لوري هڅه کېږي چې دغه دهلیز د اروپا او اسیا ترمنځ د نویو سوداګریزو فرصتونو د رامنځته کولو په موخه وکاروي، چې په بشپړېدو سره به یې په دواړو لویو وچو کې نوي کاري فرصتونه رامنځته شي. د شمال – جنوب نړیوال ترانسپورټي دهلیز له لارې به د روسیې د سن



پټرزبورگ او مسکو ښارونه د ايران د بندر عباس او چابهار سره ونښلول شي. دا هغه څه دي چې کولای شي په وچه کې د ايسارو هېوادونو لکه افغانستان له پاره نوی سوداگريز فرصت رامنځته کړي. افغانستان به وکولای شي د دې دهليز له لارې سمندري بندرونو ته لاسرسی پيدا او په پايله کې به له نړۍ سره خپلې سوداگريزې اړيکې پراخې او نورو بازارونو ته به لار پيدا کړي چې هلته به د ترانسپورټي لگښتونو د کموالي له امله رقابت وکړي.

د دغه دهليز په اوږدو کې په پرتو هېوادونو کې د زيربناوو جوړول د پراختيا په حال کې دي چې دا به د پانگونې د جذب له پاره زمينه برابره کړي. له دې سره به په عين وخت کې د صنعت سکټور هم وده وکړي چې دا چاره د ښکېلو هېوادونو پر اقتصادي وده خورا مثبت اغېز کوي. د دغه دهليز په بشپړېدو سره به بېلابېلو بازارونو ته لاسرسی هم اسانه او ترانسپورټي لگښتونه به د پام وړ راکم شي.

## پايله

د شمال – جنوب نړيوال ترانسپورټي دهليز بشپړېدل به د اروپا او اسيا ترمنځ سوداگري څو چنده اسانه، ترانسپورټي لگښتونه به راکم، نوي کاري فرصتونه به رامنځته، د دغه مسير په اوږدو کې به د پرتو هېوادونو ترمنځ سياسي کړکېچ ختم او په ټوله کې به د يادو دوو لويو وچو ترمنځ د سوداگرۍ په برخه کې نوی انقلاب رامنځته کړي.

له دغه نړيوال ترانسپورټي دهليز سره د افغانستان نښلېدل به د کابل لپاره نوي فرصتونه برابر کړي. کابل به وکولای شي خپلې سياسي او په عين وخت کې سوداگريزې اړيکې له تهران او نوي ډيلي سره چې د جنوبي اسيا دوه مهم هېوادونه دي، پياوړې کړي. نړيوالو بازارونو ته به لاسرسی پيدا کړي او وبه شي کولی چې له دې لارې په ښه ډول صادرات او واردات ولري.

له دغه دهليز سره د نښلېدو په صورت کې به افغانستان د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره خپلې سوداگريزې اړيکې لا پراخې کړي. د همدې مسير له لارې به ان د اروپا بازارونو ته هم لار پيدا کړي چې دا به يې د سوداگرۍ کچه څو برابره زياته او د هېواد اقتصادي وده به گړندۍ کړي.



# نگاه بر تلاش های انجام شده در زمینه
# تولید برق خورشیدی

نویسنده: امان الله حنیفی

## مقدمه

تامین برق به عنوان یک صنعت زیرساختی یک کشور تاثیر بسزایی بر سایر بخش های صنعتی، ارائه خدمات، اجراء کارهای روزانه، سطح تولید و همچنان زراعت دارد. همانطوریکه رشد اقتصادی کشورها به صنعت برق بستگی دارد، همینگونه این صنعت به عنوان زیربنا مهم، رول مهم و اساسی در تقویت رشد اقتصادی و ارائه تسهیلات اجتماعی به مردم دارد. افغانستان؛ با روی کار آمدن امارت اسلامی، نخستین گام ها در جهت صنعتی شدن برداشته و برای رسیدن به این هدف تولید برق داخلی به ویژه تامین برق تجدیدپذیر و پاک را در اولویت قرار داده شده است. افغانستان یکی از کشورهای جهان است که منابع سرشار و ظرفیت کافی برای تولید برق دارد. این منابع عبارتند از آب، گاز طبیعی، زغال سنگ، باد، افتاب و گاز بایومس که بر اساس تحقیقات انجام شده، افغانستان با این منابع ظرفیت تولید حدود ۳۰۰هزار میگاوات برق را دارد. بیشتر این ظرفیت تخمینی را انرژی افتابی تشکیل میدهد که مقدار کل آن ۲۲۲هزار میگاوات است.

در این مقاله در مورد تلاش های انجام شده در زمینه تولید انرژی خورشیدی صحبت می کنیم.

## تلاش های انجام شده در زمینه تولید انرژی خورشیدی

تولید برق از منابع تجدیدپذیر انرژی مانند افتاب در دهه های اخیر محور اصلی مسیر صنعتی و اقتصادی کشورهای توسعه یافته و در حال توسعه تبدیل شده است. کشورهای توسعه یافته جهان با سرمایه گذاری در بخش تولید برق خورشیدی تلاش می کنند تا خود را از خرید برق وارداتی با قیمت گزاف رهایی یابند و از سوی دیگر از فرار سرمایه از کشور جلوگیری نمایند. علاوه بر این، آنها می خواهند با تولید انرژی های تجدید پذیر و پاک، سلامت و

محیطی پاک داشته باشند. افغانستان یکی از کشورهای جهان است که بیشـتر به برق وارداتی وابسته است. برق وارداتی نه تنها رشد صنعت را متزلزل نموده بلکه میلیاردها دلار سرمایه را نیز از کشور خارج و ضربه بزرگی بر اقتصاد کشور وارد کرده است.

برای رهایی از برق وارداتی و به تدریج جهت رسـیدن به خودکفایـی در تولید برق داخلی، علاوه بر تولید برق آبی و بادی، به تولید برق خورشـیدی نیز توجه شـده است. به همین منظور بـرای اولین بار در سـال ۱۳۹۵ پروژه برق خورشیدی ۱۰ میگاوات در شهرک صنعتی قندهار از طریق مشارکت عامه - خصوصی از سوی شرکت برشنا افغانستان و شرکت هندی داینستی عملی شد. در این پروژه حدود ده میلیون دلار سرمایه گذاری شـده اسـت که برق ۷۰۰۰ خانواده را تامین می کند. با تطبیق این پروژه مشکل برق شـهر قندهار تـا حدودی کاهـش یافته و مـردم از آن خوشحال هستند. پس از آن در سال ۱۳۹۸ خورشیدی دو پروژه ۱۵ میگاوات که ظرفیت مجموعی آن به۳۰میگاوات میرسید از سوی شرکت ۷۷ ترکی و زولرستان در ولسوالی دامان قندهار به بهره برداری سـپرده شد. در این پروژه ها حدود ۳۹ میلیون دلار سرمایه گذاری شده و برق ۱۰ هزار خانواده و ۲۰ کارخانه را تامین می کند.

معاون اقتصادی ریاسـت الوزراء ملا عبدالغنی برادر آخند بتاریخ ۳۰ سنبله ۱۴۰۳ پروژه ۱۰ میگاوات برق خورشیدی افتتاح نمود. در این پروژه سـکتور خصوصی ۶.۵ میلیون دلار سرمایه گذاری کرده است که ضمن زمینه کاری برای صدها نفر، مشـکل برق هزاران خانواده حل خواهد شد. همچنان در ۲۶ ام جـدی۱۴۰۳ در کانال ولایت ننگرهار جهت آبیاری چهار هزار هکتار زمین پروژه برق خورشیدی افتتاح گردید. هزینه این پروژه حدود ۱۴۳ میلیون افغانی می باشـد که علاوه بر آبیاری ۴۰۰۰ هکتار زمین، ظرفیت تولید ۱.۲ میگاوات برق خورشـیدی را نیز دارد. به همین ترتیب در پنجم حمل ۱۴۰۳ خورشـیدی در حضور داشت معاون اقتصادی ریاست الوزراء میان وزارت آب و انرژی، شرکت برشنا افغانستان و سکتور خصوصی قراردادی پروژه



برق خورشـیدی ۲۳ میگاوات در ولسوالی سروبی کابل به امضا رسید. با تکمیل شـدن این پروژه علاوه بر شهرک صنعتی کابل مشـکلات بـرق هزاران خانـواده را حل و تسـهیلات قابل توجهی ایجاد خواهد شد. علاوه بر این پـروژه ها در بسـیاری از ولایات برای حل مشـکل برق ادارات دولتی و مراکز صحی و همچنان تعدادی از پروژه های کوچک و متوسط انرژی خورشیدی به منظور فعالیت کارخانه های تولیدی آغاز شـده است که برخی از آنها به بهره برداری نیز سپرده شده اند.

ضمن این همه اقدامات امارت اسلامی تلاش می کند تا به منظور تامین برق برای شهرک های صنعتی در ولایات مختلف، کار خانه های تولیدی و همچنان منازل مسکونی تعدادی دیگری از پروژه های تولید برق خورشیدی تطبیق نماید. علاوه بر سرمایه گذاران داخلی، برای سرمایه گذاری سرمایه گذاران خارجی نیز آسـان تریـن قوانین و حمایت کامل امارت اسـلامی به وجود آمده و خوشبختانه علاقه در این زمینه نیز افزایش یافته که تعدادی از پروژه ها توسـط کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی مورد ارزیابی قرار گرفته و ارزیابی اینگونه پروژه ها جریان دارد. با تطبیق این طرح ها مشکل برق افغانستان تا حدودی حل خواهد شد.

## نتیجه گیری

وضعیت فعلی برق افغانستان بیشتر وابسته به واردات است که رشد اقتصادی و صنعت این کشور را متزلزل کرده است. به گونه ای که اکثر اوقات برق وارداتی مورد سوء استفاده سیاسی و اقتصادی کشورهای صادر کننده برق قرار می گیرد و همانطوریکه افغانستان به آن نیاز دارد، برق به موقع تامین نمی شود. افغانستان در چنین شرایطی این کار را انجام می دهد که منابع سرشار برای تولید برق داخلی دارند. یکی از این منابع برق خورشیدی است که طبق تحقیقات انجام شده، افغانستان ظرفیت تولید ۲۲۲ هزار میگاوات برق در ۳۰۰ روز افتابی را دارد. برق خورشیدی ارزان تر از سایر منابع برق، تمیز، تجدید پذیر است و هیچ آسیبی برای سلامتی انسان ندارد. علاوه بر این در حفظ و نگهداری سایر منابع طبیعی کشور مانند آب، نفت، گاز و زغال سنگ که برای تولید برق مورد استفاده قرار می گرید، کمک می کند. پروژه های متعددی در زمینه تولید برق خورشیدی در افغانستان اجرا شده که مشکلات کارخانه های صنعتی و مردم عام را تا حدودی برطرف کرده است. هر ولایت و هر منطقه از افغانستان ظرفیت کافی برای تولید اینگونه برق دارد. لازم است تا امارت اسلامی تخفیف ویژه به سرمایه گذاران داخلی و خارجی در زمینه تولید برق خورشیدی اعطا نماید که با این کار افغانستان به تدریج از برق وارداتی رها می یابد و از فرار سرمایه از کشور جلوگیری خواهد کرد. همچنان صنعت رشد، نیازها تا حد زیادی در داخل کشور مرفوع، فرصت های کاری ایجاد، سرمایه جذب و در نهایت اقتصاد کشور با آن رشد خواهند نمود.



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۰,۷۷؋ | ۷۰,۸۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲٤٥؋ | ۲٤٥؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۲۸؋ | ۱,۲۸؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۷,۰۷؋ | ۷۷,۱۱؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۸۱؋ | ۰,۸۱؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸٤٦؋ | ۸٤٦؋ |
| ۱ | انگلیسي پوند | ۹۱,٥۱؋ | ۹۱,٥٥؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۸۷؋ | ۱۸,۸۷؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۲۷؋ | ۱۹,۲۸؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۷۳؋ | ۹,۷۳؋ |

